# په اولس مجله کښې د ځينو اولسي ادب شعري اصنافو ته اجمالي کتنه

# A Study of Some of the Poetic Features in Folk Literature appeared in Olas Journal

Hafiz Rahmat Niazi[*], Nasib Ullah Seemab[†]

**Abstract**

Olas journal is one of the prominent journals issued a decade ago. It has numerous contributions in the field of Pashto Language and Literature. In this article it has been tried to put light on the poetic features in folk literature. It has been endeavored to highlight various aspects of Folk poetic appeared in this journal for the first ever time.

اولسي ادب چې زمونږ د کلتور، تاريخ، تهذيب او تمدن په اصلي بڼه کښې د ښکاره کولو دپاره د يوې هېنداري حېثيت لري. دغه اولسي ادب دے چې په بېلابېلو وختونو کښې له پېړيو راهيسې را روان دے او خولۀ په خولۀ له يوې زمانې څخه بلې زمانې ته انتقالېږي او د اولس له هغې طبقې سره تعلق لري کوم چې له تعليم پرته په خداداد صلاحيت سره له رواني او ترنم ډک اولس ته مختلف شعري اصناف د زمانې له مرور سره په نوو نوو بڼو کښې وړاندې کوي او ورسره خپل خواږۀ احساسات د نثر په بڼه کښې په داستاني ادب کښې د نقلونو او داستانونو په بڼه کښې له خپل اولس سره ګډوي.

اولسي ادب چې د هرې ژبې وي د هغې ژبې له پېل کېدو سره سم خپل ادبي تاريخ پر مخ بيائي. د پښتو ژبې دغه قيمتي اثاثه زرګونه کاله زوړ تاريخ لري او لا تر ننه پورې په کليوال ژوند کښې په بېلا بېلو اصنافو کښې په مسلسل ډول را روانه ده، دغه قيمتي اثاثه له يوې مخصوصې علاقې سره تعلق نۀ لري بلکې هر ځاے چې پښتانۀ وي هلته دغه اولسي

PhD Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta [†]
Professor, Department of Pashto University of Balochistan, Quetta [†]

ادب ورسره اوړه په اوږه تخليق کېږي او د ادب ميدان ورباندې غنا پيدا کوي. په هره زمانه کښې مونږ وينو چې په ځينو علاقو کښې ځينې مخصوص د اولسي ادب اصناف زېږي لکه په جنوبي پښتونخوا کښې ورسره د افغانستان په ډېرو سيمو کښې غاړې، د اتڼ نارې، انګۍ او نور اصناف تخليق کېږي دغسې په خېبر پښتونخوا کښې او ورسره د افغانستان په ځينو سيمو کښې بګتی، بدله، ټپه، لوبه او نور اصناف تخليق کېږي. هم دغه د اولسي ادب ډېره برخه که هغه له خېبر پښتونخوا او افغانستان سره تعلق لري او که له جنوبي پښتونخوا سره تعلق لري، په اولس مجله کښې دغه مضامين ټول شپږ څلوېښت (46) چاپ شوي دي او يوائې له پښتو نه بلکې د نورو مغربي لکه د اروپائي ژبو يا د پښتنو په مخصوص استوګنځائے کښې وي يا له پښتنو سره نزدې پراتۀ قامونه وي د هغو اولسي ادب هم پښتو ته د ژباړو په شکل کښې را نقل شوے دے او د اولس مجلې زينت ګرځېدلے دے، په خصوصي ډول د جنوبي پښتونخوا د اولسي ادب ځينې داسې اصناف متعارف شوي دي چې تر دې له مخه متعارف شوي نۀ وو يا که شاذ او نادر په ځينو کتابونو کښې چاپ شوي وو نو د هغو کتابونو په نسبت د اولس مجلې له برکته د دنيا تر هره کونجه اورسېدل، په اولس مجله کښې د جنوبي پښتونخوا د اولسي ادب منظوم اصناف لکه بلندۍ، برغازۍ، چغيان (انګۍ) الاخورۍ او داسې نور اصناف ئې متعارف کړل.

د اولسي ادب داسې ډېر اصناف شته چې د نامه له لحاظه د خپل خواږۀ هېئت له رويه مشهور شوي دي، خو داسې هم ډېر اصناف شته چې ځينې ئې تر يوې مخصوصې علاقې پورې خلک پېژني او ځينې يو مخ مونږ د چا له خولې نۀ دي اورېدلي د مثال په ډول د سهېلي پښتونخوا د اولسي ادب څو اصناف چې پروفېسر سيال کاکړ متعارف کړي دي لکه برغازۍ، بلندۍ او داسې يو بل صنف چې ميرزا خان پېڅي متعارف کړے دے د الاخورۍ په نامه پېژندګلوي لري، يا سيد خېر محمد عارف د سعد الله ټپو په نامه متعارف کړے دے، دغه اصناف تراوسه پورې د څېړنې برخه نۀ دي ګرځېدلي. که د دغې مقالې په برکت د ليکوالو ورته لږ پام رااوګرځي نو دا به د نېک شګون نخښه وي.

## ۱ په اولس مجله کښې د اولسي ادب نثري اصناف

په اولس مجله کښې د فولکلوري نثري اصنافو په برخه کښې تر ټولو اهمه برخه د نکلونو ده چې په بېلابېلو مجلو کښې چاپ شوي دي، لکه د ادم خان درخانی، جلات خان او شمائله، مومن خان او شېرينو، موسٰی خان او ولي جان، طالب جان او ګلبشره ، خشکيار او شاترينه، مرد او نامرد، قطب خان او ناز او داسې نور. له دې پرته تر يو مخصوص سرليک ``هېر به

مي نهٔ شي" لاندې که څهٔ هم د ليکوالو د سترګو ليدلے حال وي چې په کښې داسې قيصې شته چې په راتلونکې زمانه کښې د همدغو اولسي نکلونو بڼه خپله کړې ده. مګر په شعوري توګه د اولس مجلې کارکوونکو د دغو نکلونو دپاره د يو خاص سرليک ``رومانوي داستانونه" په نامه ټاکلے دے. او په کښې ليکوالانو د محمد ګل نوري د ملي هيندارې مشهور نکلونه راوړي دي او دغسې د سيد عابد شاه عابد له خوا ``اولسي نکلونه" په نامه ليکل شوي نکلونه راغلي دي، له نثري اصنافو پرته د اولس مجلې پاڼو ته د اولسي ادب شعري اصناف هم سپارل شوي دي چې له ځينو ځيړنيزو نکتو سره ستاسو مخې ته وړاندې کېږي.

# ۲ په اولس مجله کښې د اولسي ادب شعري اصناف

## ۱.۲ بلندۍ

په اولسي ادب کښې دوؤ اهمو صنفونو غاړو او ټپو خو دومره شهرت حاصل کړ چې په لسګونو محققينو ورباندې د ايم فل او پي ايچ ډي ډګرۍ ترلاسه کړې او لا ئې ترلاسه کوي دغسې په لسګونو کتابونو کښې ورباندې ځيړنې شوې دي، خو بلندۍ د اولسي ادب يو داسې صنف دے چې په کال 1981ء کښې په پښتو اولسي ادب کښې متعارف شو او په دې اړه :

> "مونږ پر ادب والو او په تېره بيا د پښتو پر ملي او مترقي فولکلورسټانو باندې يو بيا د خپلې ژبې د يو ناپيژندلي ډول زيړے کوؤ او په پښتني مينه ورته وايو د بلنديو زيړے مو درباندې، هو. بلندۍ (Balanday) د پښتو کليوال ادب هغه په زړهٔ پورې او خوندور شعري ډول دے چې ما وروسته له خورا ډېرو هڅو د ژوب په فولکلوري خاوره کښې پيدا کړے دے"([1]).

له پورتنی حوالې معلومه شوه چې دغه صنف د ژوب په خاوره کښې پيدا شوے او په کال 1981ء کښې پروفېسر سيال کاکړ متعارف کړے دے. خو د بلنديو په اړه وړاندې لوے فولکلورسټ د بلنديو د موضوع په اړه ليکي چې:

> "بلندۍ د وادهٔ په ورځ وئيل کېږي څهٔ وخت چې ورابانې ناوې د پلار له کوره را سپره کړي نو کورباني د يوهٔ بادي شاعر په ملتيا د ورابانو په لار کښې اودرېږي، بادي شاعر په ورابانو باندې د بلنديو په وئيلو داسې شروع اوکړي چې په خوارانو هغه په اصطلاح اوبهٔ وځړوي. ځينې وخت بيا له ورابانو سره هم يو بادي شاعر ملګرے وي په داسې صورت کښې دواړه شاعران د مسابقې په بلنديو پيل اوکړي

یو بل ښۀ سره ځنډي که چېرې ورابانړي و کوربانړي شاعر ته پاګه یا په بله ژبه پټکے اومني نو بیا بلندۍ پر هم دې ځاے پاے ته اورسېږي. نو بیا کوربانړے شاعر د خوړجنو او کثیفو بلندیو په وئیلو پیل اوکړي"([2]).

د پاګې غوښتلو په وخت کښې که ورابانړو سره شاعر وي نو هغه ور مخته شي او په جوابي شکل کښې دواړه بلندۍ سره وائي. بیا د بلندیو دوه قسمونه هم پروفیسر سیال کاکړ ښودلي دي او ورسره ئې د بلندیو د مصرعو او سېلابونو هم رڼا اچولې ده :

هره بلندۍ له څلورو مصروع څخه عبارت وي، په عمومي ډول د بلندیو لومړۍ او درېمه مصرعه او دغه راز دوېمه او څلورمه مصرعه په خپلو کښې له له بل سره د وزن په لحاظ برابرې وي، له سېلابي اعتباره لومړۍ او درېمه مصرعه اووۀ اووۀ سېلابه او دغه ډول دوېمه او څلورمه مصرعه دولس دولس سېلابه راځي، البته ځینې بلندۍ له دغه ټاکلي چوکاټ څخه بېخي وتلې وي، [د نمونې دپاره دغه دوې بلندۍ اوګورئ]

کلا د میرزئي ده
اوس زړه سوه نړېدلي ئې برنجان دي
نو دے به سره یایو
چې الکان و ماینې نۀ راباندې خاندي
دا بد وئیل ګنده وي
څوك چې بد وئیل کوي مخان ئې تور سي
لنګۍ درڅخه غواړم
سپین ټیکرۍ دې د اووو زویانو مور سي[3]

د بلندیو د مخصوص موضوع په اړه کېدے شي چې د خبرې ګنجائش پیدا نۀ شي البته د بلندۍ د سېلابونو او مصرعو په اړه مونږ وینو چې که دغه لومړۍ دوې مصرعې سره یو ځاے شي هم هغه د اتې د نارو مخصوص بحر ځینې جوړېږي البته دا به وي چې لومړۍ مصرعه به د اتې د ډېرو مصرعو غوندې نۀ وي ځکه چې هلته لومړۍ مصرعه په اووۀ سېلابه پابنده وي او په نولسم یا اتلسم سېلاب بیا ورسره یوائې په قافیه یا په ردیف او قافیه دواړو ورسره پابنده وي، دوېمه مصرعه ئې هم کټ مټ دغسې وي. د مثال په ډول دلته لومړۍ د لومړۍ پابندې مصرعې وروسته د لومړۍ ازادې مصرعې چې د پروفیسر سیال کاکړ له دوو مصرعو سره برابره راځي، دا نارې اوګورئ:

وشپونه یکړه، د نابودې خوند د واخستئ له نړه [1]
نړه خدای ده مات که، چې سې داسې لکه زما د قلم دړه[4]

[1] نړ، مرلی. لکه کړکه جوړه شوې د ساز اله

ټکنده غرمه ده لاهورۍ شېخه په خونه کښې ویده ده
ما سر کړئ وردننه، دې ول مه راځه ناترسه زما روزه ده
ښۀ ده چې روزه ده مونږ نېکي کوو له بدو مه توبه ده[5]

اوس هغه نارې اوګورئ چې لومړۍ مصرعې ئې د پروفیسر سیال کاکړ د بلندۍ له بحر سره یو ډول ازادې وي:

د یار په مرګ خبره شوم، بې خیاله مه په ځان منګولې سرې کړې
بېلتونه! کور دې وران سه، ستا له لاسه مه تنې د ګرېوان پرې کړې
یار مه په یارانو خورۍ! یار مه په یارانو کښې ښکاره دے
یار مه شین طوطي دے شین طوطي مه د مرغانو شهزاده دے
خولۀ د دسندۍ وَړَکی خولۀ د دسندۍ تر ګل نازکه
و ما ته د را نۀ کړه سرې سبا به ئې چمجي اوخوري یا مځکه
له خپله کوره څوني جار له خپله کوره څوني لرې ولاړم
په ورځ مه پام غلط وي چې ماښام سي د اسمان ستورو ته زاړم
دلته د څو ورځو چورۍ دلته د څو ورځو ملېمانۀ یو
مونږ د چول مرغان یو چورۍ نن که یو دلې سبا به نۀ یو[6]

اوس یوه د پروفیسر سیال کاکړ بلندۍ په ډېر معذرت سره ماتوم او اندازه کوؤ چې ایا واقعي دا د اتڼ د ازادۍ نارې غوندې هېئت لري که ئې فرق شته:

جانان چې پنجتیر یووړ یاره جنګ بې په کاوۀ تر مازیګره
بورے که ښۀ مېړۀ وۀ ماول اوس به پاګه اچوي له سره[7]

له دې معلومېږي چې اوس په پورتنیو مصرعو کښې د سېلابونو او د اتڼ د نارو په غالب اچولو کښې هېڅ کمے نۀ راځي، نو عېن ممکنه ده چې د بلندیو دپاره ئې هم دغه د اتڼ ناره سره ماته کړې وي، خو البته د پروفېسر سیال کاکړ دغه خبره پر خپل ځاے سمه ده چې د بلندیو موضوع یوه ده هغه فقط د وادۀ په وخت د ناوې له سپرولو سره سم د بادي شاعر له خولې د ورابانړو ستاینه یا غندنه وي. نور هېڅ نۀ په کښې ځائېږي.

## ۳ برغازۍ

د پورتنیو بلندیو غوندې یو بل مشهور د اولسي ادب شعري صنف برغازۍ دي چې په وړومبي وار پروفېسر سیال کاکړ متعارف کړې دي .

"د اولسي عامو سندرو دغه فورم هم تراوسه چا نهٔ دے معارفي کړے او د لومړي ځل دپاره ستر پښتون فولکلوریسټ ښاغلي سیال کاکړ د فولکلور مئینانو ته په لیکلي ډول ور اوپېژاندهٔ"([8]).

د دغه صنف له متعارف کولو او په دغه اړه د نور زیات وضاحت دپاره وینو چې:

"زهٔ د خپلو اوسنیو معلوماتو له رویه وئیلے شم چې ګوسه د برغازیو اصل مرکز دے، د پښتو دغه شعري پانګه د ژوب په دې پراخه ناوه کښې د نرګانو له خوا په کاکړي ګړدود کښې جوړېږي د دې شفاهي پانګې ژبه خورا سوچه او د پښتو په انګه تورو پوښلې، البته په ځینو برغازیو کښې د پښتو ځینې خوږجن توري راغلي دي، د برغازیو په جوړولو کښې د ګوسې دوه نامتو ټبرونه لکه د سنځرخېلو کبزیان او خوستیان په ګډه برخه وال دي، البته د وخت په تېرېدو سره د برغازیو د وئیلو ساحه پراخه شوې ده. اوس د بوري د کاکړو، موسٰی خېلو ویاړلې سیمه د برغازیو یو بل مرکز بللے شو"([9]).

د برغازیو د دې اهم صنف په اړه مونږ وینو چې د هیئت په لحاظ هم ورباندې څېړنه شوې ده. چې په څومره بېتونو مشتمله وي او په څو څو قسمونو بحرونو او مصرعو کښې وئیل کېږي. په دې اړه مونږ وینو چې:

مونږ له فني اعتباره وئیلے شو چې ځینې برغازۍ د کاکړیو په اتهٔ څپه ایزه بحر کښې جوړېږي، دلته د یوې درې مصرعه ایزې برغازۍ یوه خوندوره بېلګه چې د غاړو په اتهٔ څپه ایز بحر کښې جوړه شوې ده، تاسې ته وړاندې کوم:

سره نجلۍ اوبو له لاړه :: بیا د یار ګایو له لاړه
ما لیده اوبو له لاړه :: ګوډے ډك اوبو له لاړه
دا د یار دپاره لاړه :: مسته بیا اوبو له لاړه[10]

د اولس له بېلا بېلو پاړو څخه معلومېږي چې برغازۍ کله دوې مصرعې، کله درې مصرعې، کله یوه نیمه مصرعه، کله دوه نیمې مصرعې کله وړې او کله اوږدې مصرعې راځي او د سېلابونو شمېر ئې اکثر چې په منځ کښې اودرېږي نو یوه خوا ئې اکثر اتهٔ اتهٔ سېلابه لري، خو کله اووهٔ او نهه سېلابه هم راځي یعني د برغازۍ یو مخصوص بحر نهٔ دے چې په هغه کښې دې منحصره شي بلکې له دې پرته نور هم د سېلابونو په حساب مصرعې لري.

# ٤ الاخوري

د برغازیو او بلندیو غوندې یو بل خوندور صنف چې د اولس مجلې له لارې متعارف شوے دے هغه الاخوري صنف دے. د دغه صنف په اړه محققین لیکي:

"دا خویندو چې پښتو ژبې ته کوم سوغاتونه ورکړي دي په هغه کښې کاکړۍ غاړې، چغیان، سلسلې، خوربنادي او الله خورۍ دي. دلته به زۀ د شفاهي ادب نوے صنف الله خوري په ګوته کړم او د پښتو د شفاهي ادب دا خوندور صنف به متعارف کړم. الله خوري په دې سیمه کښې د وادۀ په ورځ وئیل کېږي چې د کلي پېغلې ئې په ګډه په داسې خوندور اواز کښې وائي چې تعریف کول ئې د قلم په څوکه نۀ بلکې له اورېدو سره تعلق لري. هر وخت چې په ورا پېغلې راشي نو د کلي پېغلې چې د ناوې په کور کښې ناستې وي، سره را یو ځاے شي له دریه سره د مېلمنو پېغلو صفت د الله خورو په خوندورو شعرونو کښې کوي"([11]).

د الاخورو په شعرونو کښې وینو چې د کلي پېغلې یوائې د هغو پېغلو تعریف نۀ کوي بلکې له خپل کلي چې د ناوې دپاره کومې پېغلې راغلې وي د هغو تعریف هم کوي لکه په دغه الاخور کښې چې وائي:

څوکه کاغذینه د ورا مشره کاغذینه: الا خوره
د ورا په مخه راغلې، ورا په تا ګړده برېښمینه: الاخوره
الاخوره: چا اوښکې تویولې، لالا اوښکې تویولې، الاخوره
د ځوانانو رنګ ئې بد کړے، خوندې هر چا ودۀولې، الاخوره
الاخوره، د چا شمشېره درخته، د ناوې شمشېره درخته، الا خوره
زمونږ زوم تر لاندې ناست دے، باچهي کوي بې تخته، الاخوره[12]

د الاخوري ساحه اوس ډېره پراخه شوې ده او د جنوبي پښتونخوا له شا و خوا علاقو پرته تر افغانستان پورې رسېدلې ده او خصوصاً اوس په کندهار کښې په ډېر شوق سره وئیل کېږي. د جوړښت له لحاظه الاخوره دوې مصرعې لري چې هره مصرعه پنځلس سېلابه وي کله کله یو سېلاب کم او زیات هم راځي خو چې کله الاخور په ترنم سره وئیل کېږي نو د هغۀ کم او یا زیات سېلاب اندازه نۀ کېږي.

تر دې له مخه چې په الاخوري باندې تبصره کوم، یوه بله خبره هم په ګوته کوم چې دغه الاخوري په کندهار، پښین، چمن وغېره کښې د بابولالې په نامه یادېږي، فقط دومره

فرق ئې دے چې نور بحر ئې دغه دے صرف په الاخوري کښې په لومړي او وروستي سر کښې الاخوري ټکړے ور اضافه کوي. په ځينو بابولالو کښې چې لومړۍ مصرعه تکرار شي او الاخوره نۀ ورسره اووائي نو کټ مټ د الاخوري په وزن راځي د مثال په ډول دا بابولاله اوګورئ:

په ديوال ويشتلے سکور دے
زما جانان چې وادۀ وړينه، د لالي په غېږ کښې زور دے
پر مونږ بيا نوے هوس دے
د جان سارے مې نشته، مګر اوس د مور په نس دے
پلور واچوه پر بوټي
لېور دې اغا جان دے، اشرفۍ ويشي په موټي[13]

دغسې په ځينو بابولالو کښې خو د خور ټکړے هم راوړي فقط دومره فرق ئې دے چې لومړۍ مصرعه تکراري نۀ ده، که لومړۍ مصرع تکرار شي نو بيا له دغې بابولالې الا خورے جوړيږي. د بېلګې په توګه اوګورئ:

خور، تور اس تور ئې تانګونه
زما د جان وادۀ مو راوړ، د مېوند په ميدانونه
خور، سپرلے په منا وخوت
له خدايه مونږ راضي يو، چې له خپښه مو لاس وخوت[14]

هم په دغه وزن او بحر کښې پروفيسر سيال کاکړ د ښادۍ بدلې راوړې دي دلته هم صرف د لومړۍ مصرعې تکرار په کښې نۀ شته نور ئې ټول بحر هغسې دے لکه د رفيع صاحب د ځينو بابولالو او د مرزا خان پيخې صاحب له الاخوري پرته نورې مصرعې چې دا ټولې په يوه بحر کښې دي دلته د سيال کاکړ ځينې د ښادۍ بدلې اوګورئ:

پلانړے... ښېر دے نۀ به تښتي
د خوښې کټوې باندې
د وادۀ کالي ئې سکښتي
تر بالښت لاندې انار دے
داسې زوم مې دے درکړے
شناسي د کندهار دے
تر دودکش دې دود راوزي
و پلاني ته وَرا ووزه
زوم دې لخې وورې وزي[15]

## ۵ د سعد الله ټپې

د پښتو د ځينو اولسي ادبي اصنافو غونډې يو بل صنف د سعد الله د ټپو په نامه ښاغلي سيد خېر محمد عارف متعارف کړے دے. او ورپسې ښورلس کاله وروسته د مرزاخان پيښي هم په دغه صنف د سعد الله پر ځاے د سعيد الله ټپې نوم ورکړے ، بيا ئې ورباندې مختصر بحث کړے دے . ځينې د سعد الله ټپې ئې هم ورکړې دي چې د هغه وخت د جنګ او نور ماحول ذکر په کښې شوے دے او له دغه صنف سره يو ډېر نادره دردېدونکے او له ظلم او ناروا سلوك ډك داستان د سعد الله د ټپو په اساس بيان شوے دے، خو سيد خېر محمد عارف د دغه صنف په تاريخي او هيئتي حېثيت خوندور او مفصل بحث کړے دے، د دغه صنف د هيئت په اړه مونږ وينو چې:

"د سعد الله د ټپو او د ټپو د اکربکر متعلق که مونږ لږ شانته پلټنه اوکړو نو معلومه به شي چې په ټوله پښتونخوا کښې دا ډول ټپې نهٔ خو شته دي او نهٔ دې ټپو ته ورته داسې بل صنف شته چې مونږ ورته ارو مرو ټپه ووايو. البته په لږ توپير د امې له غاړو سره چې ځينې خلک ورته د اتڼ نارې وائي سمون خوري، خو په سېلابي بحر کښې ئې د غاړو، ټپو او د اتڼ په نارو کښې ښخي ډېر توپير دے"([16]).

سيد خير محمد عارف وړاندې د سعد الله ټپې په اړه د سېلابونو په رڼا کښې ئې په بحر باندې خبره کړې ده :

"د دې ټپې اوله ټوټه زمونږ په علاقائي لهجه کښې دوؤلس سېلابه ده، او د سرحد په لهجه کښې يوولس سېلابه ده، دغه رنګه دوېمه ټوټه ئې صرف اتهٔ سېلابه ده او بيا درېمه ټکړه ئې دوؤلس سېلاب او ښلورمه ټوټه ئې اتهٔ سېلابه ده. د دې برعکس ټپه په اوله ټکړه کښې نهٔ سېلابه لري او په دوېمه ټکړه کښې ديارلس سېلابه"([17]).

که مونږ په ځيرسره د فولکلوري شعري اصنافو نورې نمونې اوګورو، نو داسې نور اصناف هم شته چې هغه د سعد الله له ټپو سره نژدې دي، فقط په سعد الله ټپې کښې په لومړي سر کښې ``سعد الله وئيل" جمله ورسره اضافه کېږي، هغه په الاخوري کښې هم او دغسې په ځينو بابولالو کښې هم ور اضافه کېږي نور ئې لومړۍ مصرعه کټ مټ د پورتنيو اصنافو الاخوري او بابولالي غونډې ده البته په دوېمه مصرعه کښې ئې ډېر فرق دے چې دوؤلس سېلابيز بحر لري. د سعد الله په ټپو کښې د دوه سوه نهٔ دېرش (239) کاله مخکښې د نادر شاه افشار د هغه ناروا او ډېر ناروا سلوك اظهار شوے دے چې د جنګ په ميدان کښې

ئې ډېر پښتانهٔ ژوبل کړي وو او د اختر په ورځ ئې د سپل انجونې بندې کړې وې او د ازغيو غوبل ئې ورباندې کاوهٔ، د دې ټول ظلم او بربريت ذکر او ورسره د سعد الله او شېر محمد د مېړانې په اړه ډېر شعرونه وئيل شوي دي، دغه ټپې د هغه وخت د حالاتو داسې ترجماني کوي چې:

په هم دې پاپيونو کښې د ځښناك اوبهٔ ښاريانو ته سپلائي کېدې، د هم دې ښار انتظام د يوهٔ ستر پښتون سعد الله خان په لاس وهٔ، چا چې د نادرشاه افشار سره زبردسته ډغره وهلې وه او په زرګونو پښتاهٔ په دا ډغره کښې حق ته واصل شوي وو، يو روايت دا دے چې صرف شپېتهٔ زناني ژوندی پاته شوې وې او نور ټول خلک د ظلم او بربريت ښکار شوي وو.... په هغو ټپو کښې د نادرشاه د ظلم او استبداد پوره مواد خوندي شوي دي چې تر مونږ سينه په سينه منتقل راغلي دي. دا ټپې په دې سيمه کښې د سعد الله د ټپو په نامه شهرت لري... د نمونې دپاره دا اوګورئ:

سعد الله وئيل، که درسته خدايه! درسته، چې مې تورې په وهلې
له هغو ځوانانو يو راسره نهٔ شته، چې مې تورې په وهلې[18]

د سعد الله خان په ټپو کښې واقعي هم چې د ټپې له دوؤ مصرعو څخه له يوې سره هم برابره نهٔ ده خو بيا هم دې ته ټپې وئيل د حېرانتيا خبره ده. خو دغه د سعد الله ټپې د الاخوري له مصرعو سره هم په ځينو مصرعو کښې نزدېکت لري، خو په دوېمه مصرعه کښې ئې ډېر فرق دے ځکه چې د سعد الله د ټپې لومړۍ مصرعه دوؤلس سېلابه ده او د الاخورۍ دوېمه مصرعه شپاړس سېلابه ده ځکه مونږ د سعد الله ټپې له پورتنيو اصنافو څخه بېل بشپړ صنف ګڼو. البته د سعد الله په ټپو کښې دغسې د خوربنادۍ په ځينو بدلو کښې او ورسره د الاخوري په صنف کښې دغسې په بلنديو کښې هم په ځينو کښې لومړۍ مصرعه ځاے په ځاے له لږ خراش تراش او ځاے په ځاے بې له څهٔ نيمګړتيا د غاړې په وزن کښې راځي او په ځينو کښې چې د ترنم دپاره تورې يا جملې اضافه شوې دي که هغه لرې شي بيا هم د غاړې په بحر کښې راځي دا که له لومړۍ مصرعې يا دوېمې سره موازنه کړوهم ، د نمونې دپاره اوګورئ:

- غاړه: زما نصيب سايه د لمر سوے :: ستا بېلتون تر حساب تر سوے
- بلندی: دا بد وئيل ګنده وي
- بابولاله: په دېوال ويشتلے سکور دے
- د سعد الله ټپې: چې مې تورې په وهلې

- خورښادي: خورښادي ده غم ئې مه کې
- برغازی: سره انجلۍ اوبو له لاړه

دغه ټولې لومړۍ مصرعې د بېلابېلو اصنافو د غاړو په وزن کښې دي او د ځینو محققینو له څېړنې سره سم کاکړۍ غاړې کله دواړې اتۀ اتۀ سېلابیزې مصرعې لري، کله اووۀ او اتۀ، کله نهۀ نهۀ سېلابونه هم لري:

هغه کاکړۍ غاړې چې هره مصرع ئې اتۀ اتۀ سېلابه وي:

ښائستې که ستا رضا ده
ستا د قام بدي پر ما ده

هغه غاړې چې هره مصرع ئې نهۀ نهۀ سېلابه وي:

شين خالۍ نجونې لا ښې دي
پر لاره ځي له خندا شنې دي

هغه غاړې چې یوه مصرع ئې اووۀ سېلابه او یوه ئې اتۀ سېلابه وي:

تر لاس نۀ تړو ګړۍ
مونږ ملنګان یو شين خالۍ[19]

زما د تحقیق سره سم غاړې په اتۀ اتۀ، اووۀ او اتۀ، یا اووۀ اووۀ سېلابونو کښې راځي، خو په پورتنۍ حواله کښې چې د نهۀ سېلابیز بحر کومه غاړه ورکړل شوې ده دا هم په اتۀ سېلابیز بحر کښې ده هسې دا یو سېلاب له غاړو سره د نۀ نزدیکت له رویه ځینې زیات شوے دے چې د شعریت له چوکاټه هم غاړه وتلې ده او ماته شوې ده، دغه مصرع ``پر لاره ځي له خندا شنې دي" پر ځاے دا مصرع ``پر لار ځي له خندا شنې دي" ده. او په دغه ډول ئې ببرته اتۀ سېلابیز بحر جوړېږي او د شعر رواني هم برقراره پاته کېږي. البته د غاړو په اړه د فولکلوري ادب پوهـ سید خیر محمد عارف او د شعر په فني محاسنو پوهـ درویش دراني له خوا په جرس مجله کښې د ازادو غاړو او دغسې د نهۀ سېلابیز او له ټپې سره د دې نزدېکت باندې په بشپړه توګه بحث شوے دے. د دغه بحث پَلونه ډېر اوږدۀ دي ، څومره چې پسې ځې ، دغومره دا لا لرې وځي . خو د فولکلور په دغو ځینو اصنافو چې بره ئې څېړنه درته وړاندې کړل شوه ، به تر یوۀ حده د فولکلور د مینه والو څۀ تنده ماته کړے شي.

# حوالي

[۱] کاکړ، سیال، بلندی، (مشموله اولس کوټه) نومبر/ دسمبر 98ء، مخ22.

[۲] کاکړ، سیال، پروفېسر، نثري انځور،پښتو ادبي بورډ کوټه، 2005ء، مخ116.

[۳] کاکړ، سیال، بلندی، (مشموله اولس کوټه) مخ 26، 29.

[٤] رحمت،حافظ،نیازے،دیواني شعري اصنافوکښې د فولکلوري شعري اصنافود بحرونو رېښې،(مشموله شپږ میاشتنۍ تکتو پښتو څانگه بلوچستان پوهنتون کوټه، 2005ء، مخ 95.

[٥] ایضاً، مخ11.

[٦] عارف، خېر محمد، سید، د اتڼ نارې (څېړنه او پلټنه)، پښتو اکېډمۍ کوټه، 2005ء، مخ81، 132، 133.

[۷] کاکړ، سیال، پروفېسر، نثري انځور، مخ11.

[۸] خاورې، غوټۍ،د پښتو شفاهي ادبیات، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، 1362ش، مخ 2.

[۹] کاکړ،سیال، برغازی، د پښتني فولکلور یو صنف، (مشموله اولس کوټه) نومبر/ دسمبر 182ء، مخ37.

[۱۰] ایضاً، مخ38.

[۱۱] پیڅرے، مرزاخان، الاخوری،(مشموله اولس کوټه) نومبر/ دسمبر 1977ء، مخ0.

[۱۲] ایضاً، مخ111.

[۱۳] رفیع، حبیب الله، د خلکوسندرې، د افغانستان اکاډیمۍ د تاریخ او ادب ټولنه، افغانستان، 49هـ، مخ 97.

[۱٤] ایضاً، مخ92، 93.

[۱٥] کاکړ، سیال، فولکلوري جواهر، پښتو اکېډمۍ بلوچستان کوټه، 1979ء، مخ73، 74.

[۱٦] عارف، خېرمحمد، سید، د سعد الله ټپې،(مشموله اولس کوټه) نومبر/ دسمبر1974ء، مخ 33.

[۱۷] ایضاً، مخ33.

[۱۸] ایضاً، مخ33.

[۱۹] خاورې، غوټۍ، د پښتو شفاهي ادبیات، مخ 56.